Deputy PM for Economic Affairs Office

د رياست الوزراء اقتصادي معاونيت

# د افغانستان اقتصادي پرمختګ

## (خبرپاڼه)

دویم کال - ۱۹ مه ګڼه | پرله‌پسې ۳۳مه ګڼه

نېټه: ۱۴۰۴/۵/۲۳



په افغانستان کې هره اونۍ په بېلابېلو سکټورونو کې مهم اقتصادي فعالیتونه او پرمختګونه رامنځته کېږي. د افغانستان اقتصادي پرمختګ (خبرپاڼه) همدغو مهمو او وروستیو اقتصادي فعالیتونو او پرمختګونو ته پوښښ ورکوي.

### په دې ګڼه کې لولئ:

۱- له چین سره د افغانستان د سوداګرۍ زیاتېدل

۲- د میدان وردګ ولایت کې د زردالو حاصلاتو کې ۳۰ سلنه زیاتوالی

۳- د بریښنا پروژو کې د بهرنۍ پانګونې جذب

# له چین سره د افغانستان د سوداګرۍ زیاتېدل



د افغانستان اسلامي امارت د صنعت او سوداګرۍ وزارت مسوولینو ویلي، له چین سره د افغانستان سوداګري د روان ۲۰۲۵ کال په لومړیو اوو میاشتو کې د پام وړ لوړه شوې ده. د رسمي معلوماتو له مخې، په دغه موده کې د دواړو هېوادونو ترمنځ د سوداګرۍ ټول ارزښت ۵۴۱ میلیون ډالرو ته رسېدلی دی. افغانستان چین ته وچې مېوې لکه جلغوزي او وچ زردالو او همدارنګه قیمتي او نیمه قیمتي ډبرې صادروي. په مقابل کې له چین څخه ټوکر، برېښنايي وسایل، د لمریزې برېښنا تولید سولرونه، موبایلونه او نور صنعتي توکي واردوي. چین د افغانستان له مهمو سوداګریزو شریکانو څخه دی. سره له دې چې د دواړو هېوادونو سوداګریز بیلانس متوازن نه دی، خو د سوداګرۍ د کچې زیاتوالی د افغانستان د اقتصادي ودې او د بهرنۍ سوداګرۍ د پیاوړتیا له پاره مثبت پرمختګ دی. د سوداګرۍ تر څنګ، په وروستیو کلونو کې په افغانستان کې د چینايي پانګوالو پانګونه هم زیاته شوې ده. ګڼ شمېر چینايي شرکتونه په بېلابېلو سکټورونو کې فعالیت کوي. د افغانستان اسلامي امارت د اقتصاد محوره پالیسۍ پر بنسټ ټولو بهرنیو پانګوالو ته د پانګونې زمینه برابره کړې او د هغوی د اقتصادي فعالیتونو هرکلی کوي. د چین تر څنګ، د یوشمېر نورو هېوادونو پانګوال هم په افغانستان کې پانګونه کړې. د افغانستان اسلامي امارت ټولو بهرنیو پانګوالو ته د همکارۍ او ملاتړ ډاډ ورکړی.

# د میدان وردګو ولایت کې د زردالو حاصلاتو کې ۳۰ سلنه زیاتوالی

د میدان وردګو ولایت ځایي مسوولینو په وینا، سږکال په دغه ولایت کې د زردالو حاصلات زیات شوي دي. د هغوی په وینا، د تېر کال په پرتله سږکال د زردالو



حاصلاتو کې ۳۰ سلنه زیاتوالی راغلی دی. مسوولینو زیاته کړې، سږکال د زردالو له بڼونو څخه پنځه زره او ۴۰۰ میټریک ټنه حاصلات ترلاسه شوي دي. افغانستان یو کرنیز هېواد دی او اقتصاد یې تر ډېره په کرنه او مالدارۍ ولاړ دی. په هېواد کې مختلف ډوله مېوې لکه انګور، زردالو او نورې کېږي، چې یوه برخه یې نورو هېوادونو ته صادرېږي او د بزګرانو د ژوند سطحې په ښه کېدو او عوایدو زیاتوالي کې مهم رول لوبوي.

د مېوو صادراتو د افغانستان د کورني اقتصاد د ودې ترڅنګ له نورو هېوادونو سره د افغانستان د سوداګریزو اړیکو ټینګښت کې هم مهم رول لوبولی دی.

اسلامي امارت د کورني اقتصاد د ملاتړ په پارډ کورنيو کرنيزو محصولاتو د کاروني ملاتړ کوي. هېوادوالو ته هم په کار ده چې د خپلو کرنيزو محصولاتو او بڼوالو ملاتړ وکړي او د هېواد د اقتصادي پرمختګ له پاره تر خپله وسه له خپلو کورنيو کرنيزو محصولاتو څخه استفاده وکړي.

# د برېښنا پروژو کې د بهرنۍ پانګونې جذب

د افغانستان برېښنا شرکت مسوولينو ويلي، په تېرو يوولسو مياشتو کې د برېښنا سکټور کې ۶۹ ميليارده افغانۍ پانګونه شوې چې اويا سلنه يې بهرنۍ پانګونه ده.

د مسوولينو په وينا، په هېواد کې د برېښنا د کمښت ستونزې د حل له پاره جدي هڅې کوي.

د افغانستان اسلامي امارت هڅه کوي چې د برېښنا سکټور کې د کورنۍ او بهرنۍ پانګونې د جذب له لارې په هېواد کې د برېښنا د کمښت ستونزه حل کړي او ان تر ځان بسياينې پورې يې ورسوي.

اوسمهال د هېواد زياته برخه برېښنا له ګاونډيو هېوادونو څخه واردېږي چې هر کال شاوخوا ۲۴۰ ميليونه ډالر لګښت لري.

په وروستيو کې د هېواد په مختلفو ولايتونو کې د برېښنا سکټور کې پانګونه شوې. د لمريزې، بادي او اوبيزې برېښنا پروژې پيل شوي دي. دغه راز، د عزيزي انرژۍ خصوصي شرکت له لوري په هېواد کې د لس زره ميګاواټه برېښنا د توليد تفاهم ليک له پلي کېدو سره به د افغانستان برېښنا سکټور کې يو لوی تحول راشي.

د برېښنا کچې په زياتېدو سره به په هېواد کې صنعتي فعاليتونه زيات شي، د بېکارۍ کچه به راکمه او په ټوله کې به برېښنا د هېواد د اقتصادي پرمختګ لامل وګرځي.

